## د تېلو کړکېچ؛ د رژیم د جرمونو د لړۍ یوه بله بېلګه




له تېرې اونۍ راهیسې په سوډان کې د تېلو کړکېچ زیات شو، چې په پایله کې یې په پلازمېنه او نورو ښارونو کې عمومي ترانسپورټ او شخصي موټرونه اغېزمن شول. په سلګونو موټرونه د تېلو پمپونو ته په لیکو کې د تېلو اچولو په تمه ولاړ وو، چې دې چارې ترافیکي نظم ګډوډ کړ، د خلکو ستونزې او کړاوونه یې نور هم ډېر کړل. د خلکو پر شته ستونزو نورې ستونزې هم زیاتېږي، دوی ته پاملرنه نه کېږي او د دوی پر وړاندې له نابرابرۍ څخه کار اخیستل کېږي!!

موږ پوهېږو چې سوډان ۹۰ سلنه د خپل اړتیا وړ تېل د سپکو موټرونو لپاره په کور دننه کې تولیدوي او یوازې ۱۰ سلنه تېل واردوي، په داسې حال کې چې ۱۰۰ سلنه ډېزل او د اړتیا وړ د پخلې ګاز هم له بهر څخه واردوي. (سوډان جییم الکترونیک ورځپاڼه)

د تېلو د کړکېچ او نورو کړکېچونو تر شا د سوډان ناوړه او بې رحمه دولت دی، چې زموږ خلک یې له ډول ډول کړاوونو سره مخ کړي دي او لامل یې د لاندې کړنو پایلې دي:

1. هغه لوی کړکېچونه چې د سوډان خلک ترې کړېږي، ستر لامل یې د الله سبحانه و تعالی له قانون څخه پرته د هیواد اداره کول دي، چې کوم جرم تر دغه لوی جرم کېدای شي؟
2. یاد حکومت د کافرې سپینې ماڼۍ له امرونو سره سم هیواد اداره کوي. سپینه ماڼۍ د سوډان حکومت د نړیوال وجهي صندوق په مټ څاري، کوم چې پر تېلو او نورو توکو د بیو په لوړولو او کښته کولو کې مهم رول لري.... ایا تر دې هم لوی خیانت شته؟
3. حکومت د اسلام او شریعت د اصولو په اډانه کې هیڅ تګلاره نه لري چې پر مټ یې د خلکو اقتصاد وغوړېږي.

**اې د سوډان مسلمانانو!**

تاسو په دې ستره ستونزه ښه پوهېږۍ، چې د الله سبحانه و تعالی شریعت د قضا، اقتصاد او د هیواد د مدیریت په برخه کې نه پلی کېږي. تر ټولو بده لا دا چې حکومت کافر لوېدیځ ته ژمن دی. د ۲۰۱۸ د مارچ پر ۲۸ مه د الطیار ورځپاڼې لیکلي، چې د سوډان په پارلمان کې د بدلون بلاک مرستیال وویل: « دغه اساسي قانون چې د ملي بحثونو پایله ده، له هر ډول اسلامي او یا نور مذهبي شالید څخه به ازاد وي». باید ووایو چې د یادې ستونزې حللاره په ژوند کې د دین عملي کول دي او ورپسې د الهي قوانینو پر بنسټ د راشده خلافت تاسیسول دي، تر څو د کار تګلاره مو د لمر په څېر روښانه او موخه په بشپړه توګه محسوسه(واقعي) شي. له همدې امله ستاسو دنده د دوامداره کار او پوره ځیرکتیا له لارې اسلامي عقیده را ژوندۍ کول او په ربښتني قربانۍ سره د اسلامي ژوند د بیاځلې پیل په موخه د نبوت پر تګلاره راشده خلافت تاسیس کول دي، چې په همدې کې د دین پیاوړتیا او درناوی نغښتی دی. الله سبحانه و تعالی په دې اړه فرمایې:

﴿لِمِثْلِ هَذَا فَلْيَعْمَلِ الْعَامِلُونَ﴾
[الصافات: ۶۱]
*ژباړه: د همدغسې بریالیتوب لپاره باید عمل کوونکي کار وکړي.*

**لیکوال: د حزب التحریر- ولایه سوډان مطبوعاتي دفتر ویاند ابراهیم عثمان (ابو خلیل)**

**۱۴۳۹ هـق، د رجب ۱۸ مه**

**۲۰۱۸ م، د اپریل ۵ مه**

**ژباړن:صدیق احمد زی**